بسم الله الرحمن الرحيم

قـوه قضائيه

# جريده ميزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

يک شنبه ۴ وږی ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۱ صفرالمظفر ۱۴۴۶ هـ ق | ۲۵ اګست ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۷۴)

## د قضائي زده کړو عمومي رياست کې د محاکمو قضائي غړو ته جوړ شوی ۴۵ ورځنی سيمينار پای ته ورسېد

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست کې د هېواد د بېلا بېلو ولايتونو د محاکمو قضائي غړو ته د قضاء برخه کې د ظرفيت لوړونې په موخه جوړ شوی ۴۵ ورځنی سيمينار د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د صفرالمظفر مياشتې په ۱۳مه نېټه پای ته ورسېد.

د قضاء برخه کې د محاکمو د قضائي غړو د ظرفيت لوړونې په موخه دغه سيمينار کې د بېلا بېلو ولايتونو د محاکمو ۳۶ قضاتو، مفتيانو او محررينو ګډون درلود، چې د قضائي زده کړو عمومي رياست په تعليمي نصاب کې د شته شپږو مهمو کتابونو په تدريس سربېره ورته په ياده برخه کې د مسلکي استادانو او علماء کرامو لخوا ورته عملي زده کړې هم ورکړل شوې.

د دغه قضائي سيمينار د فارغينو په غونډه کې چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه، د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب د اسلامي نظام، قضائيه قوې د ارزښت او مهم مسؤوليت په تړاو تفصيلي وينا وکړه وويل، قضائيه قوه د نظام ډېره مهمه او ستره قوه ده او لوی مسؤوليت لري.

محترم شيخ خيرخواه صاحب زياته کړه، د اسلامي نظام د خدمت پر مهال بايد زموږ اصلي موخه د نظام بقاء، د عدل تأمين، د ظالم د ظلم مخنيوی او حق حقدار ته سپارل وي، له ځان څخه د لوړو مسؤولينو هداياتو ته بايد توجه وکړو او د اصولو په رڼا کې يې بايد بشپړ اطاعت وشي.

دغه راز د قضائي زده کړو عمومي رئيس محترم شيخ قيام الدين (قانت) د سيمينار په اړه وويل، دغه سيمينار د مختلفو محاکمو د قضاتو، مفتيانو او محررينو د قضائي ظرفيت لوړونې په موخه جوړ شوی و او له نېکه مرغه په ډېر بريالي ډول پای ته ورسېد.

نوموړي زياته کړه، د سيمينار ګډونوالو ته د قضائي زده کړو عمومي رياست د مسلکي علماء کرامو او استادو لخوا د شپږو کتابونو پر تدريس سربېره عملي روزنه هم ورکړل شوه.

د سيمينار يو ګډونوال وويل، دغه قضائي سيمينار د محاکمو د قضائي غړو د ظرفيت لوړونې برخه کې ډېر ګټور و او ګډونوال په کې د قضاء برخه کې ډېر موارد زده کړل او له ټولو مسؤولينو مننه کوو چې موږ ته يې د ياد سيمينار د جوړېدو فرصت برابر کړی و.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس بغلان ولايت ته د سفر پر مهال (۱۱) جزائي دوسيې حل او فصل کړې

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) چې محترم مفتي عبدالحی (شاکر) يې ملتيا کوله د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړې هدايت په ۱۴۴۶/۲/۱۵ هـ ق نېټه د يو شمېر مهمو جزائي دوسيو د نهايي کولو په موخه بغلان ولايت ته سفر وکړ.

د سترې محکمې د جزاء دېوان رئيس د دغه څلور ورځني سفر پر مهال بغلان ولايت کې (۱۱) جزائي دوسيې چې ډېری د قتل موضوعات په کې شامل وو، حل او فصل کړې.

د جزا دېوان عمومي رئيس په ياد سفر کې لومړی د مرافعه محکمې له رئيس او نورو قضائي غړو سره وکتل او د جزائي موضوعاتو د حل او فصل په موخه يې تر تفصيلي خبرو وروسته لازم هدايات ورسره شريک کړل.

ورپسې يې د يادوو (۱۱) جزائي دوسيو له جانبينو سره وکتل او له هغوی يې د دوسيو په اړه بشپړ تحقيقات وکړل.

په دې سربېره محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب د يادو دوسيو اړوند زندانيان راوغوښتل او د مربوطه موضوعاتو په تړاو يې ترې پوره پوښتنې او تحقيقات وکړل.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) د جزائي دوسيو د نهائي کولو په موخه د هېواد يو شمېر نورو ولايتونو ته هم سفرونه کړي دي.




## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱**

**نېټه: ۱۴۴٦/۱/ ۱۸ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست د مشرتابه محترم عالي مقام څخه داسې استهداء کړې وه:

«هغه متهمين چې د کشفي او استخباراتي ارګانو لخوا نيول کيږي د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۲۹) مورخ ۱۴۴۳/۸/۱۲ هـ ق مطابق د احتياطي تدابيرو په خاطر تر لسو ورځو پورې د نظارت لاندې نيول کيږي، آيا کشفي او استخباراتي مراجع د يادو متهمينو د عدم الزام په صورت کې د محکمې د حکم څخه پرته د خوشي کولو صلاحيت لري او که نه؟ په اړه يې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۵۸۱۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۷هـ ق په توسط داسې هدايت کړی دی: «هر څوک چې ونيول سي، هغه دي محکمې ته وړاندې کيږی او د هغوی په امر دي خلاصيږي، څکه چې که بندي مجرم ثابت نه سي نو محکمه ابراء خط ورکوي.»

د ياد حکم په اړه د سترې محکمې محترم مقام داسې هدايت وکړ: « د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۵۸۱۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۷هـ ق مصادف ۱۴۰۳/۳/۱۶هـ ش دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي.»

بناءً پورته هدايت ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**لسمه برخه**

**۲-...معاذ بن جبل رضي الله عنه**

او رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) د قضاء او فصيلې کولو طريقه وروښودله چې ياد روايت احمد په خپل مسند سره د معاذ (رضي‌الله عنه) له ملګرو څخه نقل کړی دی، چې کله نبي کريم (صلی‌الله عليه وسلم) دی يمن ته لېږی، نو ورته وويل: « فيصله به څنګه کوې؟» معاذ (رضي‌الله عنه) وويل: زه به فيصله د الله تعالی په کتاب (قرآنکريم) کوم.

بيا نبي کريم (صلی‌الله عليه وسلم) وويل:«که قرآنکريم کې نه وه؟»، معاذ وويل: بيا د رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) په سنتو (حديثو) فيصله کوم.

بيا نبي کريم (صلی‌الله عليه وسلم) وويل:«که د رسول الله صلی‌الله عليه وسلم په سنتو کې نه وه؟» معاذ وويل: بيا په خپل اجتهاد سره.

راوي وايي چې رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) وويل: «هغه الله تعالی لره دې حمد وي، چې د خپل پيغمبر (صلی‌الله عليه وسلم) استازی (رايه) يې موافق کړ.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د غور، هرات او فراه ولایتونو مرافعه محاکمو ته د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز (میوندي) او د یاد ریاست مدرس مولوي عبدالمالک (انقیادي) غور، هرات او فراه ولایتونو ته د سفر پر مهال د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو لپاره د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل.

د دعوت او ارشاد ریاست دغه پلاوي د صفرالمظفر میاشتې په ۲مه، ۹مه او ۱۳مه نېټه په یادو ولایتونو کې له لسګونو علماء کرامو آزموینه واخیسته او د دوی له ډلې یې درې ممتاز علماء کرام د اړوند ولایتونو مرافعه محاکمو ته د دعوت او ارشاد برخې د آمرینو په حیث وټاکل.

دغه راز د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د خپل سفر پر مهال د غور، هرات او فراه ولایتونو د محاکمو له اړوند مسؤولینو او منسوبینو سره اصلاحي ناستې ترسره کړې.

په دې اصلاحي غونډوکې د یاد پلاوي لخوا ټولو ګډونوالو ته مهمې او ارزښتناکې ویناوې وشوې.

## محترم مولوي میرآقا معتصم د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د نوي رئیس په توګه معرفي شو

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ ابتدائیه محکمې نوی رئیس محترم مولوي میرآقا (معتصم) په ۲/ ۲/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د یادې محکمې منسوبینو او کارکوونکو ته ور وپېژندل شو او رسماً یې خپلې چارې پیل کړې.

د معرفت په دې غونډه کې د مرافعه محکمې د تحریراتو رئیس مولوي عتیق الله(عمر)، د مرافعه محکمې د مدني دېوان عمومي مدیر مولوي نورآغا (مدني)، د یادې محکمې کارکوونکو، د ولسوالۍ مرستیال، امنیه قوماندان، د حقوقو مدیریت ټولو کارکوونکو او نورو مسؤولینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د مدني دېوان عمومي مدیر د موسهي ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د نوي رئیس مولوي میرآقا (معتصم) پې ۲ مکتوب د غونډې ګډونوالو ته ولوست .

د غونډې په دوام محترم مولوي معتصم وویل، باید تل د الله تعالی شکر اداکړو چې موږ ته یې هدایت کړی او یو اسلامي نظام یې زموږ په برخه کړی دی.

نوموړي زیاته کړه، په اسلامي نظام کې د مشرانو اطاعت واجب دی او کوم امر چې موږ ته کېږي باید اطاعت یې وکړو، دا چې زه یې د موسهي ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته د قاضي په توګه معرفي کړی یم، د مشرتابه محترم عالي مقام د امر اطاعت کوم او خپله دنده به په ښه توګه ترسره کړم.

محترم مولوي معتصم زیاته کړه، په نظام کې د هرې اداري کارونه، مسؤولیتونه او مکلفیتونه مشخص شوي دي، نو باید اداري د یو بل په اجراآتو کې مداخله ونه کړي او په همغږۍ سره خپلې چارې په ښه توګه ترسره کړي.

په پای کې د یادې ولسوالۍ امنیه قوماندان نوي رئیس ته د مبارکۍ ترڅنګ د پخواني رئیس د کارونو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې مولوي ظهیر خپله دنده په ښه امانتدارۍ ترسره کړې.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## مفتشین قضائی زون جنوب غرب با اعضای قضائی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بادغیس دیدار نمود

محترم مولوی اخترمحمد (نعمانی) رئیس هیئت مؤظف تفتیش قضائی ریاست عالی تمیز زون جنوب غرب، به همراهی مولوی عطاءالرحمن (عاصم) و مولوی شیر محمد (خادم) اعضای تفتیش قضائی به تاریخ ۴ /۲ /۱۴۴۶ هـ ق غرض تفتیش و بررسی اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس به آن ولایت سفر نمود.

هیئت مؤظف در جریان این بازدید بعد از ختم بررسی و تفتیش، با اعضای قضائی در مقر ریاست عمومی محکمهٔ مرافعهٔ آن ولایت جلسه را دایر نمودند.

در ابتداء محترم الحاج مولوی عبدالخالق (امدادالحق) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ضمن قدردانی از تشریف آوری و بررسی مفتشین طی سخنان خویش افزود، که اجراآت محاکم بادغیس بعد از رهنمائی های هیئت محترم تفتیش قضائی سال قبل بهبود یافته و این گونه رهنمائی های مفتشین قضائی به اجراآت عموم قاضی صاحبان محاکم یک درس خوب بوده و به روند کاری یومیه شان تأثیر گذار می‌باشد.

رئیس هیئت تفتیش قضائی اطمینان داد، که بررسی و تفتیش از اجراآت محاکم بخاطر بهبود و روند سرعت اجراآت محاکم می‌باشد.

## د غزني ولایت د مرافعه محکمې سرپرست رئیس د یاد ولایت د قره باغ او ګیرو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه

د غزني ولایت د مرافعه محکمې سرپرست رئیس محترم مولوي محمد مبین (الطاف) په ۱۶/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د یاد ولایت د قره باغ او ګیرو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنو کې د مرافعه محکمې رئیس د یادو ابتدائیه محاکمو له مسؤولینو سره په یو لړ مهمو موضوعاتو خبرې وکړې.

وروسته په یادو ولسوالیو کې د دوه پېچلو موضوعاتو په اړه د مرافعه محکمې رئیس په دې لیدنو کې د دوو مهمو او د یادو ولسوالیو له قضائي غړیو سره ناسته وشوه، د دوسیو د ورقو دقیقه پلټنه وشوه او د هرې موضوع دواړو لوریو ته اصولي مرجع تعین او هغوی ته قناعت ورکړل شو.

پیچلو موضوعاتو په اړه هر اړخیزه پلټنه وکړه او د یادو موضوعاتو د حل په موخه یې یو پلاوی تعین کړ او دواړو طرفینو ته قناعت ورکړل شو.

## د کابل د مرافعه محکمې دېوانونو په دوو اونیو کې (۱۱۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې په دوو اونیو کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۱۱۱) دوسیو ته رسېدنه کړې، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - د دې محکمې د جزا دېوان:**

د جزا دېوان ته په دوو اونیو کې (۱۹) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. د دې محکمې د عامه امنیت دېوان:**

د عامه امنیت دېوان ته په دوو اونیو کې (۱۰) دوسیې وارد شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. د دې محکمې د نظامي منسوبینو دېوان:**

د نظامي منسوبینو دېوان ته په دوو اونیو کې (۲) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په تړاو قضائي قرار صادر شوی، (۲) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۴. د دې محکمې مدني دېوان:**

مدني دېوان ته په دوو اونیو کې (۲۴) دوسیې وارد شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۵. د دې محکمې تجارتي دېوان:**

تجارتي دېوان ته په دوو اونیو کې (۲۵) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۲۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، نظامي محکمې او ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۲۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۵۲) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۶۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۲) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۲) وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د فراه ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۲۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۹۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، وثایقو او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱۳/ ۱۱/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۱۳/ ۱۲/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۲۲۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۹۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۵۵) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۴) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۲۵۱) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۵) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۹۹) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۰۷) دوسیه، به تعداد (۳۹۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۸/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۳) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۰) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۷) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۳۹۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۰۶) دوسیه، به تعداد (۵۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی ها از تاریخ (۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۶) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله شده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۸۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۹۰) دوسیه، به تعداد (۱۹۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری، محکمۀ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۲) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۳) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۲) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۹۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۳۲) دوسیه، به تعداد (۱۶۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱۸) دوسیۀ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۵) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۶) دوسیۀ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۴) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۱۶۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم لغمان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۹۳) دوسیه، به تعداد (۱۱۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت لغمان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۵) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت لغمان به تعداد (۱۱۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۱۹) دوسیه، به تعداد (۱۶۹) وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری، محکمۀ نظامی، محکمۀ اختصاصی و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصله شده، (۱) مکتوبی مسترد گردیده، و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۳) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۶) مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۶۹) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۳۶) دوسیه، به تعداد (۱۲۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۴/ ۲/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم بدخشان به تعداد (۱۶۰) دوسیۀ حقوقی مورد رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم بدخشان به تعداد (۷۶) دوسیۀ جزائی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۲۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های متباقی دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۱۲۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## په کابل کې یوې متهمې ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند د ښاري ابتدائیه محکمې خلورم زون د جزا دیوان د پرېکړې په اساس په (۱۷/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټه یوې ښځې ته چې پر زنا متهمه وه؛ تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دیوان یاده متهمه په دوه کاله تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه؛ چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمې تطبیق شو.

سرپرست مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډيتور: جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## د فراه ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۲۲۵) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۹۹) وثيقې هم اجرا کړې دي

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۶) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۵۰۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## په خوست ولايت کې يوه مجرم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د خوست ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د عامه امنيت ديوان د پرېکړې په اساس يو تن ته چې د اسلامي مقدساتو توهين يې کړی و؛ په عام محضر کې ۳۹ دُرې تعزيري سزا کې ورکړل شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د خوست ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مولوي امين الله (منيب)، قضائي، نظامي منسوبينو او عام هېوادوالو ګډون درلود.

د يادونې وړ ده چې ياده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته تطبيق شوه.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲**
**نېټه: ۱۴۴۶/۱/۱۹ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې محترم عالي مقام د دفتر رياست پيشنهاد نمبر (۱۸۵/۴۴۲۵) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۱۸ هـ ق د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شو، خلاصه يې داسې ده: «د جزايي موضوعاتو په مورد کې که د نهايي فيصلو ابلاغ جانبينو ته د مشرتابه محترم عالي مقام د توشيح او تائيد وروسته وشي بهتره به وي.»

په اړه يې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۶۲۸۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۲/۲۲هـ ق په توسط داسې هـدايت کړی دی:

«د سترې محکمې نظر تائيد دی د نهايي فيصلو ابلاغ دې د توشيح او تائيد وروسته وسي.»

د ياد حکم په اړه د سترې محکمې محترم مقام داسې هدايت وکړ: «د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۶۲۸۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۲/۲۲ هـ ق مصادف ۱۴۰۳/۴/۹هـ ش دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي.»

بناءً پورته هدايت دديې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۳**
**نېټه: ۱۴۴۶/۱/۲۶ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د محاکمو د امنيتي پرسونل د صورت او سيرت اصلاح.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ۱۴۴۶/۱/۲۶هـ ق په اساس داسې هدايت وکړ: « د اسلامي امارت د محاکمو د امنيتي پرسونل د صورت او سيرت د اصلاح او د مراجعينو سره د ښه سلوک په موخه دې د محاکمو د محترمو رئيسانو او يا هم د محکمو د يو تن عالم لخوا په اونۍ کې دوه ځلې اصلاحي بيان ترسره شي، تر څو ديني او تربيتي اصلاح ورسره وشي.

دارالانشاء عمومي رياست دې ياده موضوع په متحدالمآل شکل ټولو محاکمو ته واستوي».

بناءً ياد حکم دديې متحدالمآل په توسط تاسو ته د عملي کولو په موخه واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ٤**
**نېټه: ۱۴۴۶/۲/۱۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!


السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته


موضوع: د استفادې څخه وتلو اوراقو د ساتلو په اړه د سترې محکمې د محترم مقام حکم.

د ځينې محکمو استهداآت رارسېدلي دي ليکلي دي چې په دفترونو کې سپين کاغذونه او ورقې چې د استفادې وړ نه وي، د کثافاتو په سطلونو کې اچول کيږي، حال دا چې د ځينو ورقو په سر کې بسم الله ليکل شوي وي او په ځينو ورقو کې اسماء الله، اسماء الانبياء، د قرآن کريم آيتونه، حديث شريف او فقهي عبارات ليکل شوي وي چې دغه کړنه د مقدساتو ډېره لويه بې احترامي ده.

په اړه يې د سترې محکمې محترم مقام د حکم مورخ ۱۴۴۶/۱/۲۲ هـ ق په توسط هدايت کړی دی: «موضوع په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته وليږئ تر څو د مقدسو اوراقو په احترام ساتلو کې خپل مکلفيت اداء کړي.»

بناءً ياد حکم دديې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.




میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د ښېرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلېفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳